# پښتو درسي کتاب

## د اول اعلیٰ دپاره



این - ډبلیو - ایف - پی ټیکسټ بُک بورډ پېښور

# د پښتو درسي کتاب

ټول حقونه په حق د این - ډبلیو - ایف - پی ټیکسټ بک بورډ محفوظ دی .

د وفاقي وزارتِ تعلیم له طرفه د چټی F.9_1/97_UR مطابق منظورکړے شوے .

مصنّفین

سید احمد مومند ، محمّد عالم ، نیاز محمّد ،عاجز،

دا کتاب :

د نظامتِ تعلیم پرائمری صوبه سرحد
این - ډبلیو - ایف - پی ټیکسټ بک بورډ او
د پاک - جرمن د تکنیکی تعاون ادارې
په اشتراک سره تیار کړے شوے دے.

# پښتو درسي کتاب

## د اول اعلیٰ دپاره

این - ډبلیو - ایف - پی - ټیکسټ بک بورډ

پېښور

# فهرست



| شمېره | عنوانونه | صفحې | شمېره | عنوانونه | صفحې |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | حمد (نظم) | 4 - 3 | 21 | شگفته او احمد ام کری (قصه) | 41 - 40 |
| 2 | زمونږ کور | 6 - 5 | 22 | ونې او بوټی | 43 - 42 |
| 3 | خدائے پاک | 8 - 7 | 23 | لوبې کوئ جنگ مهٔ کوئ ! | 45 - 44 |
| 4 | گلدان مات شو (قصه) | 10 - 9 | 24 | جائزه ( 3 ) | 46 |
| 5 | لاندې زمکه پاس اسمان دے (نظم) | 12 - 11 | 25 | صفائی | 48 - 47 |
| 6 | زمونږ سکول | 14 - 13 | 26 | نمر او سیلۍ (قصه) | 50 - 49 |
| 7 | زمونږ پیغمبرؐ | 16 - 15 | 27 | ځناور | 52 - 51 |
| 8 | جائزه (1) | 17 | 28 | د نمر گرمی او رڼا | 54 - 53 |
| 9 | اسلم او انگور (قصه) | 19 - 18 | 29 | د تگ راتگ ذریعې | 56 - 57 |
| 10 | ځان د خطرونه وساتئ ! | 21 - 20 | 30 | دشادو وېش (قصه) | 58 - 57 |
| 11 | ښکلے ملک مې پاکستان دے (نظم) | 23 - 22 | 31 | ببوزی (نظم) | 60 - 59 |
| 12 | خبرې اترې | 25 - 24 | 32 | جائزه (4) | 61 |
| 13 | ښهٔ عادتونه | 27 - 26 | 33 | نمر د ورځې وختونه ښئ . | 63 - 62 |
| 14 | مزې خېته کوی (قصه) | 29 - 28 | 34 | درې دوستان (قصه) | 65 - 64 |
| 15 | زمونږ کلے | 31 - 30 | 35 | زور او حرکت | 67 - 66 |
| 16 | جائزه (2) | 32 | 36 | پړق وهئ لاسونه (نظم) | 69 - 68 |
| 17 | دا څهٔ دی (نظم) | 33 | 37 | مېلو او سورے (قصه) | 71 - 70 |
| 18 | خپلو کښې مدد کوئ ! | 35 - 34 | 38 | دعا (نظم) | 73 - 72 |
| 19 | موسمونه | 37 - 36 | 39 | جائزه (5) | 74 |
| 20 | پتنگ (نظم) | 39 - 38 | 40 | د پښتو او عربۍ حروف | 76 - 75 |


## حمد


هجې جوړې کړئ ! جملې مکملې کړئ !

| | |
|---|---|
| د ← ه ______ | زمکه لاندې ______ |
| د ← ے ______ | اسمان پاس ______ |
| د ← ی ______ | هر څهٔ د الله ______ |

## حمد



زمکه ستا ده اسمان ستا دے
دا زمونږه جهان ستا دے



منے ژمے واړه ستا دی
سپرلے اوړے ودان ستا دے



چې مېوه سبزی هر څهٔ خورو
دا په مونږه احسان ستا دے





مونږه واړه الله ستا یُو
تا په مینه باندې ستا یُو

داور خان (داؤد)


## حمد


د یوې مېوې او یوې سبزۍ نوم ولیکئ او تصویر ئې هم جوړ کړئ !

________________


________________


مېوه کومه او سبزی کومه ده ؟ کرښه ورولئ !







مېوه











سبزی








حرفونه یو ځای کړئ ! لفظونه ئې په کرښو ولیکئ !

ک ت ________ دا کټ دے .

ک و ر ________ دا کور دے .

## زمونږ کور




اِمنه وائی :

زمونږ کور کلی کښې دے - دې کښې ځلور کوټې او یوه برنډه ده .
په کوټو کښې کټونه او کرسۍ دی .
زمونږ کور کښې ونې ، بوټی او ګلونه هم شته .
مور ، پلار ، نیا ، نیکهٔ ، خوېندې او ورونړه کور کښې یو ځای وسو .
د کور کار کښې یو بل سره مدد کوو .
د کور خلق په مونږ ګران دی . کلے مو ډېر خوښ دے .
ستاسو کور او کلے ولې خوښ دے ؟

# زمونږ کور

غشے کوم ځيز ښئی؟ په کرښه ئي وليکئ!



برنده - ونه - ګلونه - کوټه - بوټی - کټ

که د کور نوري برخي پېژنئ نومونه ئي واخلئ!




د تصوير نوم مکمل کړئ!




و____ ____سونه ستر____ ____ټی

# خدائے پاک



خدائےپاک يو دے .
زمکه ، اسمان ، سيندونه ،
دريابونه او غرونه ئي پيدا
کړی دی . ونې ، بوټی ، مارغان ،
ځناور او مونږ ټول ئي پيدا
کړی يُو .




خدائے پاک مونږ له سترګي راکړی دی ، په دي وينو
غوږونه ئي راکړی دی ، په دي اورُو .
لاسونه ئي راکړی دی ، کار پرې کوو .
پښې ئي راکړي دی ، په دي ګرځو .
خدائے پاک نور څۀ څۀ پيدا کړی دی ؟

# خدای پاک

د لاندې خانې نه مناسب لفظونه خالی ځایونو کښې ولیکئ !

| |
|---|
| پښې - لاس - غوږونه - سترګه |




خالی ځاے کښې مناسب لفظ ولیکئ !

موږ په سترګو ____________ ( اورو - وینو )

موږ په غوږونو ____________ ( خبرې کوو - اورو )

موږ په پښو ____________ ( ګرځو - کارکوو )

موږ په لاسونو ____________ ( ګرځو - کار کوو )



لاندې هجې یو ځاے کړئ ، نومونه ئې په کرښو ولیکئ !



ګل - دان ____________ دا ګلدان دے .

یو - سف ____________ زهٔ یوسف یم .

جَـ - میـ - له ____________ زهٔ جمیله یم .

# ګلدان مات شو




د جمیلې او یوسف نه لوبو کښې یو ګلدان مات شو . جمیله اوتره شوه .

یوسف :- خورې ! مهٔ خفه کېږه ،

د ګلدان ټوټې به ګوزار کړو !

مور ته به حال نهٔ وایو .



جمیله :- نه روره ! رښتیا به وایو .

یوسف :- مور به مو ووهی .

جمیله :- موږ دې ووهی خو رښتیا به وایو.

مور ئې د دوی خبرې اورېدې . جمیلې ته ئې شاباسے ورکړو . یوسف ته ئې ووئېل چې تهٔ هم رښتیا وایه .

# ګلدان مات شو

کوم تصویر چې د سوال جواب دے ، کرښه ترې چاپېره کړئ !



1- لوبو کښې څۀ مات شو ؟



2- رښتیا چا وئیل ؟



3- د دوی خبرې چا اورېدې ؟



4- مور شاباسے چاته ورکړو ؟



د ړومبی تصویر سر او د دوېم تصویر اخر کښې کوم اوازونه دی ؟ وئې لیکئ !



______ شپه تیارۀ وی .



______ ورځ رڼړا وی .

# لاندې زمکه پاس اسمان دے



څومره ښکلے دا جهان دے
لاندې زمکه پاس اسمان دے

دی اسمان کښې ښکلی ستوری
چې په شپه کښې مونږ ته ګوری




دی ښائسته ښکلی باغونه
ونې بوټی ځنګلونه

بنیادم که ځناور دے
د الله په ذِکر سَر دے

داور خان داؤد

# لاندې زمکه پاس اسمان دے



د کوم لفظ تصویر چې نشته خانه کښې ئې ☒ او چې شته ☑ پکښې ولګوئ !

| | | |
|---|---|---|
| ☐ ستوری | ☐ موټر | ☐ ځناور |
| ☐ غرونه | ☐ مارغان | ☐ ماشومان |
| ☐ نمر | ☐ شپه | ☐ سپوږمی |



د تصویرونو نومونو کښې یوه یوه هجه نشته . ورته وئې لیکئ !



لو______ هلک کتاب لولی .

بې______ جینۍ لوبې کوی .

## زمونږ سکول



مونږ سحر وختی پاڅو . نمونځ نه پس چاے وڅښو بیا سکول ته ځو .



سکول کښې استاذانو ته سلام او ملګرو سره جوړ تازه کوو . د تلی نه پس اسمبلی وشی ، بیا کلاس کښې سبق شروع شی .




نیمه چُتی کښې خوک لوبې کوی او خوک تختی وینځی . غرمه چُتی شی . ټول خپلو کورونو ته ځی .

مونږ ډوډۍ وخورو . د لږ ارام نه پس د سکول کار وکړو . مازیګر لوبې کوو .

# زمونږ سکول

کوم کار ړومبے وی ؟ هر تصویر ته خانه کښې په ترتیب نمبر ولیکئ !



د تصویرونو په مدد خالی ځایونو کښې مناسب لفظونه ولیکئ !



زۀ ملګرو ته سلام ______ ( کوم - کوي )

تۀ هم ملګرو ته سلام ______ ( کوم - کوي )

زۀ کور کښې کتاب ______ ( لولې - لولم )

تۀ هم کور کښې کتاب ______ ( لولم - لولې )



لاندې هجې یو ځاے کړئ او لفظونه ئې ولیکئ !

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| نا | زل | ← | نازل | | |
| رَو | ضـه | ← | ______ | | |
| قُر | آن | ← | ______ | | |
| مَـ | ـکه | | | ← | ______ |
| مَـ | دیـ | نه | | ← | ______ |
| مَـ | حَـ | مَّد | | ← | ______ |

صلّى الله علیه و آله وسلّم

# زمونږ پېغمبر



زمونږ د پېغمبرؐ نوم محمّدؐ دے .

په مکه کښې پیدا شوے دے

روضه ئې مدینه کښې ده .



د څلوېښتو کالو عمر کښې پرې خداے پاک

قرآن پاک نازل کړو او د پېغمبرۍ اعلان ئې وکړو.

قرآن پاک د خداے پاک اخری کتاب او محمّدؐ

ئې اخری پېغمبرؐ دے .

محمّدؐ فرمائی : ماشومانو سره مینه کوئ ! د مور پلار او مشرانو ادب کوئ !

همېشه رښتیا وایئ . د چا امانت مۀ خرابوئ چې خداے پاک درنه راضی شی .

# زمونږ پېغمبرؐ

خالي ځاے کښې د خانې نه مناسب لفظ وليکئ !

| |
|---|
| قرآن - مدينه - محمدؐ - مکه - پېغمبرؐ |

زمونږ د پېغمبرؐ نوم ________ دے.


محمدؐ د څلوېښتو کالو عمر کښې ________ شو.

خداے پاک پرې ________ نازل کړو.

محمدؐ په ________ کښې پيدا شوے دے.

روضه ئې ________ کښې ده.

نيمګړی لفظونه مکمل کړئ !



کتاب



کتاب -----




ماشوم




ماشومـ----



ونه



ونـ -------



بالټے




بالټـ ------




# جائزه


د هر تصوير د نوم ړومبے حرف وليکئ !













يو شان هجې يو ځاے کړئ !


لا    مى    به    بى

بو        لو

لو        مى

بى    به    لا    بو

هر تصوير ته نوم وليکئ !














# اسلم او انګور

تصويرونو ته د قصې مطابق نمبر ورکړئ!





1 اسلم انګور اخلي .


2 هغه انګور نۀ وينځي اوخوري ئې .





3 په اسلم ولتی لګي .

4 مور اسلم له ډاکټر راولي
هغه ښۀ کيږي .



5 اسلم دې نه پس ميوه وينځي .



# اسلم او انګور

د صحی جواب خانه کښې د سوال نمبر وليکئ !

| | |
|---|---|
| 1 اسلم څۀ واخستل ؟ | ☐ اسلم ډاکټر سره ښۀ شو . |
| 2 اسلم ولې ناجوړه شو ؟ | ☐ هغۀ بيا ګنده ميوه نۀ خوړله . |
| 3 اسلم څۀ سره جوړ شو ؟ | ☐ ګنده انګور ئې وخوړل . |
| 4 اسلم بيا ګنده ميوه خوړله ؟ | ☐ اسلم انګور واخستل . |

د انګور تصوير جوړ کړئ ! د خپلې خوښې درې جملې ورته وليکئ !

1 ____________________

2 ____________________

3 ____________________


د تصوير د نومونو حرفونه يو ځاى کړئ او په کرښه ئې وليکئ !



هـ - ل - ک ______



غ - و - ا ______ دا غوا ده.



ا - و - ر ______



س - ی - ن - د ______ غوا د سیند اوبهٔ څښي

# ځان د خطرونه وساتئ !




ګرانو ماشومانو ! چې ټانګه یا نور ګاډي
نهٔ وي نو بیا په سړک پورې وځئ !



څناورو له نږدې مهٔ ورځئ !



بجلی او تېرو څیزونو کښې ګوتې مهٔ وهئ !
اور سره لوبې مهٔ کوئ ، وبه سوزئ !



چې لامبو نهٔ درځی سیند کښې
مهٔ لامبئ ډوب به شئ !

تاسو کښې چاته کومه خطره
پېښه شوې ده ؟



# ځان د خطرونه وساتئ !

پورې وځی
کوی
ورځی
وهی

پلوشه ښه جینۍ ده .

تېرو څیزونو سره لوبې نهٔ ______

ورانو څناورو له نږدې نهٔ ______

اور او بجلی کښې ګوتې نهٔ ______


په سړک بې پروا نهٔ ______


هغه د مور پلار خبره مني .

کوم کار چې خطره لری دا (X) او چې نه ئې لری دا (✓) نخښه پرې وکړئ !











# ښکلے ملک مې پاکستان دے





چې ښکاره په ټول جهان دے
ښکلے ملک مې پاکستان دے

دے ښائسته په لوړو غرونو
هم په ونو دریابونو
کران په مونږه ئې نشان دے
ښکلے ملک مې پاکستان دے

په هر لور پکښې فصلونه
ښکارى شنۀ شنۀ چمنونه
دا په شان د ګلستان دے
ښکلے ملک مې پاکستان دے





# ښکلے ملک مې پاکستان دے

د خانې نه مناسب لفظ خالى ځاے کښې وليکئ !

- ښکلے
- فصلونه
- نِشان
- ګلستان
- ~~ښکاره~~

چې ښکاره په ټول جهان دے.


______ ملک مې پاکستان دے.


دا په شان د ______ دے.

په هر لور په کښې ______

کران په مونږه ئې ______ دے.

په تصويرونو قلم وګرځوئ او مناسب رنګ ورکړئ !






# خبرې اترې

اشرف ښهٔ هلک دے . د جمال کاکا دوکان ته ورغے . سبزی ترې اخلی :










اشرف کور ته راغے . مور ترې تېلۍ اخلی .




تاسو چې یو بل وینئ نو څهٔ کوئ ؟



# خبرې اترې

تصویرونو کښې ستړی مهٔ شی بیان کړئ . بیا ئې د کلاس مخې ته وکړئ !



زهٔ  او تهٔ

| | | | |
|---|---|---|---|
| اچوم | کوم | اخلم | ورکوم |
| اچوې | کوې | اخلې | ورکوې |

زهٔ په ملګرو سلام ___اچوم___ تهٔ هم پهٔ ملګرو سلام ________

زهٔ دوکان نه سبزی ________ تهٔ هم دوکان نه سبزی ________

زهٔ دوکاندار له پېسې ________ تهٔ هم دوکاندار له پېسې ________

تصویر ته وګورئ ! د نوم اخری حرف ئې ولیکئ !





نمونـ ________ هلکـ اودس کوی .

اود ________ نازو نمونځ کوی .

## ښـۀ عادتونه






نازو ښه جینۍ ده . سحر وختی پاڅی
غاښونه په برش یا مسواک صفا کوی .
د نمونځ نه پس قرآن لولی .

سکول ته په وخت ځی . ملګرو سره یو
ځاے سبق وائی . لوبې ورسره کوی .





د کور کار کښې مور سره مدد
کوی . چې ملګرې ئې ناجوړه شی
پوښتنې له ورځی ..

ښۀ ماشومان په هر چا ګران وی .



## ښـۀ عادتونه

لاندې نومونه ولولئ ! تصویرونه ئې جوړ کړئ !

مسواک     رحل

برش     جارو

خالی ځایونو کښې هغه/هغوی ولیکئ !

نازو سحر وختی پاڅی . ________ نمونځ کوی .

ادم او پلوشه قرآن لولی . ________ ښۀ ماشومان دی .

نازو ښه جینۍ ده . ________ د مور سره مدد کوی .

سلیم او اکبر ملګری دی . ________ یو ځاے لوبې کوی .

# مزې خښته کوی

دا خبرې د کوم کوم تصویر دی هر یو ته خپله خبره ولیکئ!

1 سوچونه زهٔ کوم . بارونه زهٔ وړم .

2 متې مو سترې شی ګوتې مو ژوبلې شی .

3 د سر او لاسونو د بوج زور هم په ما وی .



________________



________________



________________




# مزې خښته کوی

هر اندام ته خپل خپل نوم ولیکئ !



سر - سترګه - پوزه - غوږ - لاس - ګوتې - پښې

# زمونږ کلے



نائی - موچی - ډرائیور - قصاب - درزی



# زمونږ کلے

زۀ کلي کښې اوسم . کلي کښې ډېر کورونه او کوڅې کچه وی . شنۀ پټی ، شنې ونې او تازه هوا وی . څوک پکښې غوښنه او څوک تازه سبزی خرڅوی . ترکاڼ کټونه او کرسۍ جوړوی . موچی څپلۍ ګنډی . هر څوک کار کوی . د لوبو ځايونه ډېر وی . زۀ هر ځاے لوبې کولے شم . کلے زما خوښ دے .

تصويرونو ته وګورئ ، خالی ځاے کښې ئې نومونه وليکئ !




________ په ترخځ او اره کار کوی .



________ په چاړۀ غوښنۀ پرېکوی .



________ څپلۍ ګنډی .




________ خلقو له جامې ګنډی .

# جائزه

د ښهٔ کار لاندې دا ( X ) او د بد لاندې دا (✓) نخښه وکړئ !

 ____  ____

 ____  ____

د تصویر د نوم اخری حرف ولیکئ !




____



____



____



____

د بکس نه مناسب لفظ ولیکئ !

____ تختی لیکم .

____ کتاب لولئ .

____ نمونځ کوی .

____ سکول ته ځي .

____ لوبې کوو .

| |
|---|
| هغه |
| مونږ |
| زهٔ |
| تاسو |
| تهٔ |



# دا څهٔ دی ؟

په کور کښې په کارېږی
کارونه پرې ډېر کيږی


یوه لنګه بل ئې سر دے　　ارام لره بهتر دے

څلور ئې لوئې پښې دی　　بې شمېره ئې کولمې دی


دوه توری ئې دَ نوم دی　　هر چا ته ښهٔ معلوم دی


نامه ئې وایه څهٔ ده ؟
دا دومره ګرانه نهٔ ده ؟ ____

دَ تصویر دپاره لفظ ولیکئ ، د لفظ دپاره تصویر جوړ کړئ !

 ____

 ____

 ____

 ____


کیله ____

ام ____

بال ____

# خپلو کښې مدد کوئ !

تصويرونو ته په غور وګورئ ! څهٔ چل شوے دے ؟




هرې جملې سره خانه کښې د خپل تصوير نمبر وليکئ !

☐ باران راځي . څه چې چترۍ راوړو !　　☐ په هلک باران ورېږي .

☐ دواړه چترۍ لاندې روان دي !　　☐ دوه ملګري روان دي .

☐ يو چترۍ پسې ځي ، بل نهٔ ځي .　　☐ ملګرے چترۍ سره راغے .

خپلو کښې مدد کوئ !



# خپلو کښې مدد کوئ !

د لاندې څيزونو تصويرونه جوړ کړئ او رنګ ورکړئ !

نمر ------------------------　　باران --------------------

ستورے ------------------------　　چترۍ --------------------

خالي ځاے کښې کوم لفظ راځي ، د لاندې خانې نه ئې وليکئ !

وريځ ________ کښې وي .

باران د ________ نه کېږي .

وريځ کښې ________ نهٔ ښکارى .

چترۍ د ________ دپاره ده


| |
|---|
| نمر |
| اسمان |
| باران |
| وريځ |

د لاندې هجو ڱازونه وباسئ . يو ځاے ئې کړئ
چې نومونه ترې جوړ شي .

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| سپر | لے | ______ | مـ | نے | اوړے ګرم وي |
| او | ړے | ______ | ژ | مے | ژمے يخ وي |

# موسمونه

سپرلے - اوړے - منے او ژمے د کال څلور موسمونه دی . د هر موسم خپل خوند او خپله هوا وی . لاندې تصويرونو ته په غور وګورئ ! هر موسم ته خپل خپل نوم وليکئ ! بيا ووايئ چې دا موسمونه مو څنګه وپيژندل .




# موسمونه

په کرښه د مناسب موسم نوم وليکئ !

______ کښې تازه هوا وي . ونې پاڼې کوي . رنګ‌رنګ ګلونه زرغون شي .


______ کښې مېوې پخيږي . ګرمي وي

______ کښې ګرمي کمه شي . د ونو پاڼې زيړې او په رژېدو شي .

______ کښې يخني وي . خلق ګرمې جامې اچوي .

زما سپرلے خوښ دے .
ستاسو کوم موسم خوښ دے او ولې ؟


د ړومبی تصویر د نوم اخری او دوېم ړومبے حرف ولیکئ !




-1 ____________ دا پتنګ دے .

-2 ____________ هلکئي الوزوی .

# پتنګ




سبکلے پتنګ یمه پتنګ
په هر شکل او هر رنګ
اوچت الوزم هوا کښې
کړمه وریځو سره جنګ



شم اوچت لکه د ستوری
چې د ېر تار مې وی په څنګ
چې هوا تېزه چلیږی
نۀ پرېږدم په زړګی زنګ

شین اسمان سره مې لګی
کړمه زۀ په کښې غورځنګ
چې باران کله وریږی
زړۀ زما وی په کښې تنګ



نیاز محمد عاجز



# پتنګ


لاندې نوم ولولئ او د خوښې درې قسمه تصویرونه ئې جوړ کړئ

پتنګ ____________

____________ ____________

د (ښۀ) او (ښۀ نۀ) په لیکلو سره جملې مکملې کړئ !







پتنګ الوزول :


دلته ____________ دی .

دلته ____________ دی .


د لته ____________ دی.

پتنګ الوزول هوار میدان کښې بې خطرې دی .

د کوم تصویر د نوم سر کښې چې د «م» اواز وی ورلاندې ئې ولیکئ !



## شګفته او احمد ام کری




هرې جملې ته د تصویر نمبر ورکړئ !

- ☐ احمد او شګفته بوټی له ګوډ ورکوی .
- ☐ احمد او شګفته ام خوری .
- ☐ د ام هډوکے زرغون شوے دے .
- ☐ احمد او شګفته دام هډوکے کری .
- ☐ احمد او شګفته دونې لاندې ناست دی .
- ☐ و امونه کړی دی .



## شګفته او احمد ام کری

خالی ځاے کښې کوم لفظ راځی . د خانې نه ئې ولیکئ !

زرغون - بوټے - هډوکے - ونه

احمد د ام ________ کری .


هډوکے ________ شی .

بیا ________ شی .

بوټے ________ شی او بیا مېوه وکړی .

د خپلې خوښې ونه جوړه کړئ او رنګ ورکړئ !

# ونې او بوټي



مېوه
څانګه
جرړې
پاڼې
تنه

د ونې هرې برخې ته د خانې نه خپل خپل نوم ولیکئ !




د تصویرنو نومونه واخلئ ۔ او ورلاندې په کرښه ئې د سر هجه ولیکئ .


____ نرې


____سی

دا کُرسی ده .


____ تے


____کی

دا کُرسی د لرګی ده .

# ونې او بوټي




ونه اول وړوکي وی . رو رو لوئیږی او
ونه ترې جوړه شی . د ونې دپاره نمر
هوا ، خاوره او اوبهٔ ضروری دی .
مونږ د ونو مېوه خورو . سوری ته ئې کښېنو .



د لرګو نه ئې کړکۍ ، دروازې او نور
څیزونه جوړوو ۔ پخلے پرې هم کوو .






ونې غټې او بوټي واړهٔ وی .
ونې او بوټي جرړې ، تنه ، څانګې او
پاڼې لری .
مونږ د بوټو نه خوراک حاصلوو .

د تصویرونو نومونه واخلئ د سر هجی ئې په کرښو ولیکئ



تاال ونه کښې د...



ل ______

زانګو په زمکه د...


نګو ______

# لوبې کوئ جنګ مهٔ کوئ !









هر تصویر لاندې خپله خپله جمله ولیکئ !

ماشومان تاال له رامنډې وهی .

ماشومان په تاال جنګ کوی .


ماشومان خپلو کښې خبرې کوی

ماشومان وار په وار زانګی




# لوبې کوئ جنګ مهٔ کوئ !


لاندې لوبو نومونه واخلئ ! هرې یوې ته د خانې نه خپل نوم ولیکئ !













رسۍ ټوپ - میرګاټی - فټ بال - چیندرو - هاکي - کبډي

نورې لوبې پېژنئ ؟ نومونه ئې واخلئ !

# جائزه

د لاندې لفظونو تصویرونه جوړ کړئ !

پتنګ ____________ ګل ____________

کټ ____________ چترۍ ____________

د دې حرفونو نه کوم لفظ جوړیږی ؟ وئې لیکئ !

ن ـ م ـ ر ____________

هـ ـ ل ـ ک ____________

پ ـ ت ـ ن ـ ګ ____________

پ ـ ا ـ کـ س ـ ت ـ ا ـ ن ____________

کوم لفظ د کوم تصویر دے ؟ یو ځاے ئې کړئ !




جنډه



ستورے



پانړه




تال




د ړومبی او دوېم تصویر د نومونو سر کښې اود درېم او څلورم تصویر اخر کښې کوم اوازونه دی حروف ئې ولیکئ !





-1 ______ -3 ______ زۀ دوډی په غاښونو مېده کوم .






-2 ______ -4 ______ برش او مسواک خولۀ صفا کوی .

# صفائی








اِمنه وائی :

زۀ خُولۀ او غاښونه په مسواک یا برش صفا کوم . نوکونه په نوک تراش پرېکوم . په صفا اوبو لامبم .

دوډی خوړلو نه مخکښې او ورستو لاسونه وینځم . مېوه وینځم بیا ئې خورم .

د کور صفایی کښې مور سره مدد کوم . وړور مې ګند او خزله د کور نه بهر یوه کنده کښې اچوی . پاک کور کښې خلق پاک او روغ وی .

تاسو د کور صفایی کښې څۀ مدد کوئ ؟




# صفائی

لاندې لفظونه د کومو حرفونو نه جوړ دی ؟ په کرښو ئې ولیکئ !

| | | | |
|---|---|---|---|
| مسواک | ____________ | ګند | ____________ |
| برش | ____________ | مور | ____________ |
| غاښونه | ____________ | غاښ | ____________ |

شعرونه ولولئ ! یاد ئې کړئ ! د وئیلو په وخت عمل ورسره کوئ !






څهٔ ښکلے سحر دے    څهٔ تازه هوا ده
څهٔ مزه ورزش کوی    څهٔ پاکه هوا ده

ښکه ښهٔ مزه ده دا    برش مسواک وهلو کښې
ښهٔ د صحت لاره ده    نوکونو پرېکولو کښې

پاکه چې مېوه شی ښه    خوند کوی خوړلو کښې
کور چې ښهٔ صفا شی    زړونو کښې رڼرا شی



د تصویرونو ړومبے حرف ولیکئ او جملې ولولئ !



______ ______ نمر ګرم دے.

______ ______ کوټ وباسه .

# نمر او سیلۍ




نمر او سیلۍ په جګړه شول نمر ووئېل :
زما زور ډېر دے او سیلۍ ووئېل زما .
سیلۍ ووئېل : دې مخامخ سړی ته
وګوره ، کوټ ترې درله ښکه وباسم !
سیلۍ ښه تېزه شوه ، سړی کوټ په ځان
نور هم کلک ونیوو خو کوټ ئې ترې ونهٔ وېستو .




نمر ووئېل ، اوس ماته ګوره ! نمر ښهٔ تېز شو
د سړی ګرمی وشوه . خولې خولې شو . زر ئې کوټ
ووېستو او په اوږه ئې واچولو . نمر سیلۍ ته ووې ! ودې
لیدو چې زما زور درنه ډېر دے سیلۍ ووئېل چې هو ! ستا
زور ډېر دے او په مخه روانه شوه .

د نمر تصویر ته ولیکئ ((نمر دے)) د سیلۍ تصویر ته ولیکئ ((سیلۍ ده))

____________ ____________

جملې ولولئ او خپل خپل تصویر ته ئې په کرښه ولیکئ !

1- نمر ته جامې وچیږی . 2- سیلۍ ونه کږه کړې ده .


3- سړی کوټ وپستلے دے .



1- ____________




2- ____________





3- ____________





د هر تصویر د نوم اخری اواز ولیکئ !


____  ____ دا چرګه ده .


____  ____ دا چرګه هګۍ اچوی .

## ځناور

مونږ غوا ، مېښه ، چېلۍ ، ګډې او چرګان کور کښې ساتو .



دا ځناور مونږ له پئ ، شوملې او هګۍ راکوی . غوښه ئې هم خورو .




زمرے ، پړانګ ، ګیدړ او هاتی په ځنګل کښې وسی . دا ډیر خطرناک وی .




کارغۀ ، ښارو ، چرچڼره هوا کښې الوزی .

مهے اوبو کښې وسی . مار په سوړه کښې وسی .







ټول ځناور خدائے پاک پیدا کړی دی .


# ځناور

هر تصوير ته مخامخ د خپلې خوښې يوه يوه جمله وليکئ !















د "ب" او "ن" اوازونه د کومو تصويرونو د نومونو منځ يا اخر
کښې راغلي کرښه وروليږئ !








ب

ن









دا نمر دے .

دا لالټين دے .

دا بلب دے .



# د نمر ګرمي او رڼا





نمر ګرم دے . سوړے يخ دے .
خلق په ژمي کښې نمر او اوړي
کښې سوري ته کښېني .

چې مور مې جامې ووينځي ، نمر ته
ئې غوړوي . خور مې چې لوښي
ووينځي نمر ته ئې ږدي . مونږ
هم تختۍ په نمر وچوو .

فصلونه او مېوې په نمر پخيږي . نمر ډېره
رڼا کوي . نمر ختو سره رڼا ورځ شي .

اور ، شمع ، لالټين او بلب هم
رڼا کوي او ګرم هم دي .

# د نمر ګرمي او رڼا

کومه جمله د کوم تصوير دپاره ده ؟ خانه کښې ئې نمبر وليکئ !







1- ښځه په اور کټوې پخوي .

2- يو هلک دواړه لاسونه مږي .

3- سړے اور ته ځان تودوي .

4- جينۍ تيلے بلوي .

هره جمله خپل خپل تصوير سره يو ځاے کړئ !



لاټين د رڼا دپاره دے .

شمع هم رڼا کوي .


اور ګرم دے ، رڼا هم کوي .

بلب ډېره رڼا کوي .



د تصويرونو د نومونو اخر کښې کوم اوازونه دي ؟ حروف ئې په کرښه وليکئ !






ټرک په سړک او جهاز
هوا کښې ځي .
زۀ په پښو ځم .
تۀ په سائيکل ځې .


# د ټګ راټګ ذريعې

ادريس پلار سره بس کښې ښار ته لاړ . پلار ورته وائي :




بچيه ! پخوا به خلق د يو ځاے نه بل ځاے ته په پښو تلل ، مالونه به ئې په شا او خرو وړل .

اوس قِسم قِسم ګاډي دي . د ورځو ورځو مزل په ګهنټو او منټونو کښې کېږي .








بس کښې خلق ځي . ټرک مالونه وړي رېل ګاډے ، هوائي او بحري جهاز ډېر خلق او مالونه وړي .

موټر ، سائيکل او موټر سائيکل هم د ټګ راټګ دپاره دي ؟

دې ټولو کښې ستاسو کوم ګاډے خوښ دے ، او ولې ؟

# د تګ راتګ ذريعې



جمله مناسب تصوير سره يو ځاے کړئ !

په هوا کښې الوزى .


په اوبو کښې ځى .


په سړک ځى ، ډېر سامان وړى .


اس ئې راکاږى ، خلق پکښې ځى .

کوم څيز تېز او کوم ورو ځى - خانه کښې نخښه وکړئ !










د تصويرونو نومونه واخلئ ! د هر نوم اخرى اواز دپاره حرف وليکئ!




پيشو ډوډۍ خورى .

شادو ونې ته خيژى .

پيشو هم ونې ته ختے شى .

# د شادو وېش





جملې ولولئ ! هرې جملې ته د خپل تصوير مطابق نمبر ورکړئ !

☐ پيشوګانې ډوډۍ تښتوى . ☐ پيشوګانې په ډوډۍ جګړه کوى .

☐ شادو ډوډۍ تلى . لږه لږه خورى . ☐ شادو ډوډۍ سره ونې ته خيژى .

# د شادو وېش

د تصویر نوم ولیکئ ! هر ځناور چې کوم اواز کوي ، کرښه ورولئ !



میاو میاو کوي .



غپ غپ کوي .



بانګ وائي .



خبرې کوي .


لاندې نومونه ولولئ . تصویرونه ئې جوړ کړئ او رنګ ورکړئ !


تله

پیشو



# ببوزي





رنګ رنګ ئې شکلونه دي
ښکلي ئې رنګونه دي

خوښ ئې بل یو څیز نهٔ دے
خوښ ئې ډېر ګلونه دي





زغلي ورپسې واړهٔ
وړي ئې ترې زړونه دي

دا ببوزي مهٔ نیسئ
دا نازک ګلونه دي

داور خان داؤد

# ببوزی

## خالی ځاے کښې سهی لفظ ولیکئ !

د ببوزی شکلونه ________ وی . ( یو رنګ ـ رنګ رنګ )

ګلونه ________ ښائسته وی . ( لږ ـ ډېر )

ببوزی ډېر ________ وی . ( سخت ـ نازک )

________ ماشومان ببوزی نۀ نیسی . ( ښۀ ـ وران )

## هره جمله خپل خپل تصویر سره یو ځاے کړئ !





ببوزے په ګُل ناست دے .

جینۍ ګلونه اوبۀ کوی .



ببوزے هوا کښې الوزی



هلک ګلونه بو یوی .



# جائزه


لفظ مات کړئ ! حرفونه ئې ولیکئ ! کوم څیز ډېره رڼا کوی . نمبرې ورکړئ !



هګۍ ___ ___ ___

چرګه ___ ___ ___ ___

سیلۍ ___ ___ ___ ___

ځنګل ___ ___ ___ ___





د سوال جواب باندې دا (✓) نخښه ولګوئ !

کوم ځناور خطرناک دی ؟







د تګ راتګ ذریعه کومه ده ؟






کورنی ځناور کوم دی ؟







# نمر د ورځې وختونه ښئی




نمر راوختو . سحر شو . د ونې سورے اوږد شو . د نمر ختو ځاے ته مشرق یا نمرخاتهٔ وائی .



نمر د اسمان منځ له راغے . غرمه شوه . د ونې سورے لنډ شو او دونې لاندې دے .

مازیګر شو . د ونې سورے بیا اوږد شو . خو دا ځل دې بل طرف ته دے .



نمر پرېوتو . ماښام شو . د نمر پرېوتو ځاے ته مغرب وائی .

شپه کښې ستورې او سپوږمی وی . نمر نهٔ وی .



# نمر د ورځې وختونه ښئ

خالی ځاے کښې د خانې نه مناسب لفظ ولیکئ !

مغرب - ماښام - غرمه - مشرق - مازیګر

د نمر ختو ځاے ته ________ وائی .

د نمر پرېوتو ځاے ته ________ وائی .

چې نمر د اسمان منځ له راشی ، ________ وی .


چې سورے مشرق ته وی ، ________ وی .

چې نمر پرېوځی ________ شی .


اپوته لفظونه د کرښې په ذریعه یوځاے کړئ !

| | | | |
|---|---|---|---|
| ورځ | رڼرا | پرېوزی | ماښام |
| لنډ | شپه | مشرق | راخېژی |
| تیارهٔ | اوږد | سحر | مغرب |


# درې دوستان




چرګې د غنمو يو وږی وموندو



چرګه غنم کری



غنم اوبهٔ کوی




غنم ريبی




# درې دوستان




چرګه غنم ژرندې له وړی



اوړهٔ به څوک تنور ته يوسی ؟



تنور واله چرګې له ډوډی ورکوی



چرګه ډوډی خوری ملګری ورته ګوری

چرګې ښهٔ وکړل که بد . او ولې ؟

دلاندي هجو نه کوم نومونه جوړيږي ؟ په کرښو ئي وليکئ !






پَـ - ری ← ______ زهٔ پری یم .

ګُـ - ل ← ______ زهٔ ګُل یم .

مونږ لوبي کوو.

## زور او حرکت





پَری او ګُل د لوبو په موټرو لوبي کوی .
مور پلار ئي ورته ګوری .
دوی موټر په یوه کرښه ودروی .
په یو ځاے دیکه ورکوی . د ګُل
موټر لرې ځی . د پَری لرې نهٔ ځی .
ګُل د پَری سره موټر بدلوی . بیا په
یو ځاے دیکه ورکوی .
دا ځل هم د ګُل موټر لرې ځی . پَری خفه کیږی .
پلار ورته وائی : بچیه !
تهٔ د ګُل په شان موټر له په زوره دیکه نهٔ ورکوې ځکه چې :
خومره زور وی هومره حرکت وی .



## زور او حرکت

هره جمله د خپل خپل تصویر سره یو ځاے کړئ !





په زوره چې پښې تاوَ وو سائیکل
به تېز ځی .



خومره چې زمونږ زور وی
دومره درونډ څيز اوچتولے شو.




خومره په زوره چې بال له لته
ورکوو ، دومره به لرې ځی .


یو غویے درونډ ګاډے نهٔ شی
راښکے ، دوه ئي راښکے شی .



خومره په زور چې کانړے
ولو ، دومره به لرې ځی .

د کوم تصویر په نوم کښې چې د ،وُ ، اواز راځی ورته ئې ولیکئ او جملې ولولئ !

 ______  ______ دا کتابونه دی .

 ______  ______ دا لاسونه دی .



## پړق وهئ لاسونه




پاځئ چې وختی‌سحر   وینځئ مخ لاسونه
پړق وهئ لاسونه ورته پړق وهئ لاسونه




په وخت ځئ مدرسې ته   ورسره وی کتابونه
پړق وهئ لاسونه ورته پړق وهئ لاسونه




په سکول کښې سبق وائی   ډیر خوښ ئې سبقونه
پړق وهئ لاسونه ورته پړق وهئ لاسونه




حکم د مور پلار منی   نهٔ کوی جنګونه
پړق وهئ لاسونه ورته پړق وهئ لاسونه

نیاز محمد عاجز



# پړق وهئ لاسونه

کوم کارونه ښهٔ نهٔ دی په خانه کښې ئې دا (X) نخښنه ولګوئ !






جملې ولولئ او خپل تصویر سره ئې یو ځاے کړئ !




1- زهٔ سحر وختی سکول ته ځم .



2- مونږ دواړه سکول ته ځو .


د تصویر د نوم حرفونه یو ځاے کړئ او نوم په کرښه ولیکئ !


م ے ل و ______________ دا مېلو دے .


م ھ ے ______________ مېلو مهے نیسی .

## مېلو او سورے


تهٔ څه! زهٔ مهیان نیسم .


زهٔ به د ونې شاته پټ شم .


چې نهٔ ځې نو خښنوم دې !


سورے نشته ، اوس به ارام وکړم .



## مېلو او سورے


اوس بیا ځم چې مهیان ونیسم !


اخ ! تهٔ بیا د کومه راغلې ؟


راځه نو چې یو ځاے مهیان ونیسو !


واه واه ! مونږ دواړو مهیان ونیول !

هر تصویر ته یوه یوه جمله ولیکئ !


______________________________


______________________________

# دُعا

چې روان په سمه لار شم

د بدۍ نه توبه ګار شم

دا دعا مې ده اے خدایه
د دوستانو زۀ په کار شم

کړې مې بد کارونه شاته
غواړم دا چې نمونځ ګذار شم

د هر مشر چې ادب کړم
او منونکے د مور پلار شم

ښۀ هلک شم په کاونډ کښې
د محلت تول خدمتګار شم

په تکلیف کښې زۀ اے خدایه
د بې وسو مددګار شم



داسې ځان درنه خیل غواړم

چې دوا د هر بیمار شم



نیاز محمد (عاجز)



# دُعا

مثال ته وګورئ ، پاتې تصویرونو ته هم دغه شان یوه یوه جمله ولیکئ !



جینۍ نمونځ کوی





لاندې لفظونو ته داسې ترتیب ورکړئ چې جملې ترې جوړې شي !

کوم - نمونځ - زۀ ______


زۀ - ادب - مشر - کوم - دَهر ______

زۀ - کوم - دُعا ______

کوم - د دوستانو - مدد ______

# جائزه

د ورځې وختونه ولیکئ !



اپوته لفظونه یو ځای کړئ !

| | |
|---|---|
| مشرق | ورځ |
| سحر | ناوخته |
| شپه | کشر |
| کرل | مغرب |
| وختی | ماښام |
| مشر | ریبل |

اره ، څټک او چاړه جوړ کړئ او یوه یوه جمله پرې ولیکئ !

........ ____________

........ ____________

........ ____________



# د پښتو الفبې چارټ

ا

ب پ ت ټ ث

ج ځ چ څ ح خ

د ډ ذ

ر ړ ز ژ ږ

س ش ښ

ص ض ط ظ ع غ

ف ق ک ګ ل م

ن و هـ/ه

ی/ے

نوټ :ـ ماشومان دې دا حرفونه په ترتیب یاد کړی . د اوازونو اعاده دې وکړی .

# د عربي حرفونه

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ا | | | | | |
| ب | ت | ث | ج | ح | خ |
| د | ذ | ر | ز | س | ش |
| ص | ض | ط | ظ | ع | غ |
| ف | ق | ک / ك | ل | م / م | ن |
| و | ء | ه / هـ | ی / ے | | |

استاذ دې په ماشومانو د پښتو الفبې حرفونو په شان د دې حرفونو مشق هم وکړی !

# قومی ترانہ

پاک سرزمین شاد باد کِشورِ حَسین شاد باد
تو نشانِ عزمِ عالی شان ارضِ پاکستان
مرکزِ یقین شاد باد
پاک سرزمین کا نظام قُوّتِ اُخوّتِ عوام
قوم، مُلک، سلطنت پائندہ تابندہ باد
شاد باد منزلِ مراد
پرچمِ ستارہ و ہلال رہبرِ ترقّی و کمال
ترجمانِ ماضی، شانِ حال جانِ استقبال
سایۂ خدائے ذوالجلال

4497

| تعداد | قیمت |
|---|---|
| 40,000 | 11.00 |